د رباعیاتو غابنونو ډېر سره ولګول شي د «ن» توري ترې راوځي .

۷- کله چې د ژبې د څوکې شا د پاسنیو ثنایا غابنونو ډېر سره ولګول شي د «ر» توری پرې ادا کېږي .

۸ - هرکله چې د ژبې د پاسنۍ برخې څوکه د پاسنیو ثنایا - غابنونو د څوکو سره ولګول شي نو د «ت ، د ، ط» توري ترې راوځي .

۹- کله چې د ژبې څوکه د پاسنیو اولاند ښیو ثنایا غابنونو د څوکو سره ولګول شي د «ث ، ذ ، ظ» توري ترې راوځي .

۱۰- هرکله چې د ژبې پاسنۍ طرف د پاسنیو اولاندینیو ثنایا غابنونو د مینځ سره پېوسته شي نو د «ز ، س ، ص» توري ادا کېږي .

د غږیدو شوندې او مخرجونه :

شوندې د څلورو تورو مخرج ګڼل کېږي .

۱ـ هرکله چې د لاندینۍ شوندې منځنۍ برخه د پاسنیو ثنایا غاښونو خوکو سره ولګول شي نو د «ف» تورې ادا کېږي.

۲ـ کله چې پاسنۍ او لاندینۍ شوندې سره ولګول شي د «ب» او «م» توري ادا کېږي.

۳ـ هرکله چې دواړه شوندې د ګل د غوټۍ په څېر راغونډې شي اوسره ونه لګول شي نو بې مده «و» ادا کېږي.

نوټ:

مد لرونکي توري درې دي: ساکن «و» ساکنه «ی» اوساکن «الف». دا توري په لاندې حالاتو کښې مد لرونکي شمېرل کېږي:

۱ـ کله چې د ساکن «و» څخه مخکینی توری ضمه «پېښې» ولري لکه په اٰمَنُوا کښې.

۲ـ کله چې د ساکنې «ی» څخه د مخه توری کسره (زېر) ولري لکه په قِيْلَ کښې.

۳ـ کله چې د «الف» څخه د مخه توری فتحه (زور) ولري لکه په

قَالَ کښې .

پورتنۍ درې واړه توري د خولې دخالیکاه څخه راوځي اوکومه ځانګړې تکیه ګاه نلري چې د نُوْحِيْهَا په لفظ کښې د درې واړو مدّونو مثال څرګند برېښي .

تبصره : مشدّد (شدلرونکی) «م» او «ن» ته غنه لرونکي توری ویل کېږي ، اوغنه هغه اواز دی چې د خیشوم ـ (سپینې مو ښې) څخه راوځي .

تمرين :

١- تجويد څه ته وايي اوڅه ګټه لري ؟

٢- د عربي د ژبې توري څواومخرجونه يې څنګه معلوميدای شي ؟

٣- دعربي ژبې توري څومخرجونه لري ؟

٤- ديو بالغ انسان دغاښونوشمېرڅووي ، اوپه کومو نومونو يادېږي ؟

٥- دکومو تورو مخرجونه په ستونې کښې دي ؟

٦- دکومو تورو مخرجونه په خوله کښې دي ؟

٧- دکومو تورو مخرجونه په شونډو کښې دي ؟

٨ - غنه څه ته وايي اوغنه لرونکي توري کوم دي ؟

دوهم فصل

د مد ډولونه او احکام يې :

۱- مد :

مد په لغت کښې کش کولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح د يوځنې تر درو الفونو په اندازه د مد د سبب دشته والي په صورت کښې د مد د حرف کش کول او اوږدول د تلفظ کول دي .

د مد حرفونه درې او (و، الف، ی) دي .

له دغو دروحروفو څخه هريوهغه وخت د مد حرف - نومول کيږي چې پخپله ساکن اوورځنې د مخکښې توري حرکت د هغه له خپل جنس څخه وي .

يعنې تر ساکن "و" د مخه توری ضمه "پيښې" ، تر "الف" د مخه

توری فتحه (زور) اود ساکنې «ی» څخه دمخه توری کسره (زېر) ولري .

د غېر طبیعي مد سبب سکون اوهمزه کښل کېږي ، یعنې کله چې د مد ترحرف وروسته ساکن حرف یا همزه راشي دا د مد سبب کښل کېږي ، اود مد حرف کش کړی او په اوږد اواز ویل کېږي .

اوغېر طبیعي مدچې طویل مد ورته هم وایي ادا کېږي .

۲- د مد ډولونه : مد په عمومي ډول دوه قسمه دی :

۱- طبیعي یا قصیر (لنډ) مد .

۲- غېر طبیعي یا طویل (اوږد) مد .

۱- طبیعي یا قصیر مد :

طبیعي مد هغه مد دی چې د مد ترحرف وروسته سکون یا همزه نه وي او دیوه الف په اندازه کش کول پې حتمي

دي، لکه په مِنْ جُوْعٍ ، قَالَ ، لِإِيْلَافِ او نُوْحِيْهَا کښې.
په قرآن کريم کښې زياته مدونه دغه پول (قصير مدونه)
دي .

۲ـ غيرطبيعي يا طويل مد :

غيرطبيعي مد هغه مد ته وايي چې د مد ترحرف وروسته همزه يا سکون راشي اوډا په اوه (۷) پوله دی .

۱ـ متصل مد : لکه څنګه يې چې له نوم څخه څرګندېږي متصل مد هغه مد ته وايي چې د مد حرف او سبب يې په يوه کلمه کښې راغلی وي .

لکه : طَآئِفٌ ، هٰٓؤُلَآءِ ، سُوْٓءَ ، جِيْٓءَ .

په پورتنيو کلمو کښې د مد توري يعني (و، الف، ی) او همزه چې د مد سبب شوي ده په يوه کلمه کښې راغلی او متصل طويل مد ورته ويل کېږي .

۲- منفصل مد : منفصل مد هغه مد ته وایي چې د مد حرف په یوه کلمه کښې او سبب یې (سکون یا همزه) په بله کلمه کښې راغلی وي .

لکه : قَالُوٓا اٰمَنَّا - فِيٓ اٰذَانِهِمْ - فِيمَآ اٰتٰهُمَا .

۳- د سکون له کبله عارض مد : هغه مددی چې د مد - سبب (سکون) یې اصلي نه وي بلکه د عارضي (وقف) په واسطه ساکن کیږي .

لکه : نَسْتَعِيْنُ ط كَافِرُوْنَ ط يُوْقِنُوْنَ ط

٤- مثقل کلمی مد : هغه مد ته وایي چې د مد حرف او - سبب یې (سکون) په یوه کلمه کښې راشي او سبب یې په همدې ترڅ کښې مشد د (شد لرونکی) وي .

لکه : حَآجَّ - وَلَا الضَّآلِّيْنَ - دَآبَّةٌ .

۵ ـ مثقل حرفی مد : هغه مد ته وایي چې د مدحرف او سبب یې (سکون) چې په ضمن کښې مشدد هم وي په یو حرف راغلی وي .

لکه : آلـمّ ، آلمّص ، طسّمّ .

٦ ـ مخفف کلمی مد : هغه مد ته وایي چې د مدّ حرف - او سبب یې (بې له شده سکون) په یوه کلمه کښې راشي .

لکه : آلـئٰنَ .

۷ ـ مخفف حرفي مد : هغه مد ته وایي چې د مد حرف او سبب یې (بې له شده سکون) په یوه حرف راشي .

لکه : نٓ (نُون) ، قٓ (قَاف) ، صٓ (صَاد)

۳ ـ د مد احکام : د طبیعي مد حکم دادی چې د ذوه - حرکتونو (یوالف) په اندازه به مد کش کېږي .

د متصل مد حکم دادی چې د شپږو حرکتونو -
(درې الفونو) په اندازه کش شي . د متصل کلمې، مخفف -
کلمې، مخفف حرفي او مثقل حرفي مد حکم داسې دی چې
تر شپږو حرکتونو (درې الفونو) پورې يې کش کول لازم دي

د متصل اوسکون له کبله عارضي مد حکم دادی چې
کش کول يې له دوه حرکتونو (يوالف) څخه تر درو الفونو
پورې جواز لري .

که د ساکنې «ی» او «و» څخه دمخه توری
فتحه (زور) ولري نو دغه ډول «ی» او «و» ته د لين
حروف وايي چې تر درو الفونو پورې يې مد کول جواز لري
لکه په مِنْ خَوْفٍ - ذَالْاَيْدِ کښې .

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی فصل

تجوید

د تجوید لوستلو ضرورت : عظیم الشان قرآن دلوی خدای ﷻ کلام او د منلي شوي رسول آنحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم معجزه ده چې مونږ د اسلام په سمه لاره روانوي . مونږ مسلمانان پر قرآن ایمان لرو او د هغه پر احکامو عمل کول د ځان لپاره د دنیا نیکمرغي او د آخرت بریالیتوب کنو .

ددې لپاره چې د دغه روښانه لاره ښوونو سره سم عمل وکړو باید د آیتونو په معنیٰ او مفهوم ځې وپوهیږو . او د همدغو مبارکو آیتونو صحیح لوستلو او تلاوت کولو لپاره باید د تجوید په علم ځان وپوهوو .

تمرین :

۱- مد څه ته وایي ؟

۲- د مد حروف کوم دي ؟

۳- د مد قصیر مثال وویاست ؟

۴- په قرآن کریم کښې زیاتره مدونه کوم ډول دي ؟

۵- د متصل اومنفصل مد ترمنځ فرق اومثالونه یې وویاست ؟

۶- د مثقل او مخفف کلمې مد ترمنځ څه فرق دی ؟

۷- د مثقل او مخفف حرفي مد مثالونه اوفرق وویاست ؟

۸- د طویل او قصیر مد حکم څه فرق لري ؟

۹- د لین حروف کوم دي او ترکومې اندازې پورې یې مد کول جواز لري ؟

۱۰- د سکون له کبله عارضي مد تعریف کړئ او مثال یې
وړاندې کړئ ؟

۱۱- د قرآن کریم د دېرشمې سپارې په وروستیو لسو
سورتونو کښې بېلابېل ډول مدونه وښیاست ؟

دريم فصل

د ساکن نون او تنوين[1] احکام :

هرکله چې په کومه کلمه کښې د هجا له توري وڅخه د مخه ساکن نون يا تنوين راشي دکلمې په ويلو کښې څلور حکمونه راميڼځته کيږي :

ادغام ، اقلاب ، اظهار او اخفاء .

۱ـ ادغام :

د لغوي معنىٰ له مخې په يو څيز کښې د بل څيز داخلولو ته ادغام ويل کيږي ، خو په اصطلاحي ډول ادغام داسې تعريفيږي :

---

(۱) دوه پېښونو (اً) ، دوه زورونو (اّ) او دوه زېرونو (اٍ) ته تنوين ويل کيږي چې دحرف په شکل نه وي او په کلمه کښې دورو ستي حرکت تابع وي . په داسې حال کښې چې ساکن نون دحرف په شکل وي لکه : عَنْ ، مَنْ . خو په اصل کښې تنوين او ساکن نون يو ډول حکم لري .

الف : د صرفيانو په اصطلاح کښې که کله دوه همجنس تورې په يوه کلمه کښې په پرله پسې ډول راشي په -

داسې حال کښې چې لومړۍ يې ساکن او دويم متحرک وي نو ادغام مينځته راځي او لومړۍ توری په دويم کښې مدغم کېږي او دا ډول ادغام په درو حالتونو کښې بڼه غوره کوي :

۱- دَجَنْسَيْنِ اِدْغَامْ :

که دوه توري له يوجنس (يومخرج) څخه په يوه کلمه کښې پرله پسې راشي د جنسينو ادغام بلل کېږي .

لکه : قَدْ تَّبَيَّنَ - اِرْكَبْ مَّعَنَا - يَلْهَثْ ذَّٰلِكَ - وَاِذْ ظَّلَمْ بَسَطْتَّ .

۲- دَمِثْلَيْنِ اِدْغَامْ :

که دوه يو شان توري په يوه کلمه کښې پرله پسې راشي د مثلينو ادغام ورته ويل کېږي .

لکه : فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ - فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ

۳ـ د متقاربينو ادغام :

که دوه داسې توري په يوه کلمه کښې پرله پسې راشي چې مخرجونه يې سره نژدې وي د متقاربينو ادغام ورته ويل کيږي .

لکه : نَخْلُقْكُّمْ ـ قُلْ رَّبِّ .

ب : د تجويد د علم په اصطلاح کښې که کله د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته د « يرملون » د تورو څخه کوم يو راشي نو هلته ادغام کيږي ، او دا دوه ډوله دی :

الف : غُنَّهْ لرونکی ادغام

که د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته د يمنو (ی،م،ن،و) له تورو څخه کوم توری راشي غنه لرونکی ادغام پکې کيږي .

لکه : مَنْ يَّشَاءُ ـ خَيْرًا يَّرَهُ ـ مِنْ مَّسَدْ ـ مِنْ وَّلِيٍ وَّلَا نَصِيْرٍ .

ب : بې غنې ادغام :

که د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د لږ ل ، ر ،
کوم توري راشي بې غنې ادغام پکې کېږي .
لکه : اَنْ لَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ - مِنْ رَّبِّهِمْ .

۲ - اقلاب :

اقلاب په لغت کښې یوځیز په بل ځیز بدلولو ته وایي
او د علم تجوید په اصطلاح کښې که تر ساکن نون یا تنوین
وروسته د «ب» توری په کومه کلمه کښې راشي نو تنوین
یا ساکن نون په میم بدلیږي ، اوغنه پکې ضروري وي .
لکه يَنْۢبَغِيْ - مِنْۢ بَعْدِ :

۳ - اِظهار :

اظهار په لغت څرګندولو ته وایي ، او د علم تجوید په -

اصطلاح کښې د دوه تورو جلاکول دي ، داسې چې د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته د حلقي حروفو (ء ،ه،ح ،خ،ع ،غ) څخه يو راشي ، ساکن نون يا تنوين اظهار ېږي اوله وروستي توري څخه جلا تلفظ کېږي ، ځکه چې نون د خولې له ابتدا څخه راوځي ، اوحلقي حروف په حلق کښې ادا کېږي ، چې فاصله يې يو تر بله ډېره زياته ده .

لکه : عَلٰى عِلْمٍ هُدًى ، اَجْرًا عَظِيْمًا ، حَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ، مِنْ خَيْرٍ

٤ـ اخفا :

اخفا په لغت کښې پټولو ته وايي ، اود علم تجويد په اصطلاح کله کله داظهار ، اقلاب او ادغام له حروفو څخه پرته د هجا د نورو پنځلسو (ت ، ث ، ج ، د ، ذ ، ز ، س ، ش ، ص ، ض ، ط ظ ، ف ، ق ، ك) توروڅخه يو توری د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته راشي نو د غُنې سره اخفا پکې کېږي .

يعني د ساکن نون يا تنوين د ادا کولو مخرج د اخفا د حرف مخرج ته ورځ کيږي او هلته ادا کيږي .

يا په بل عبارت کله چې د اخفا توري له ساکن نون يا تنوين څخه وروسته راشي نو ساکن نون يا تنوين په متوسط ډول د اظهار او ادغام ترمنځ ادا کيږي .

لکه : وَلَنْ تَفْعَلُوْا - من سِجِّيْلٍ ٥ - مِنْ جُوْعٍ .

وقفونه اوننبي يې :

وقفونه د وقف جمع او وقف ود ربدلواوځنده کولوته وايي اود تجويد دعلم په اصطلاح وقف د سا او اواز په بندولو سره د کلمې وروستی حرف ساکن کولو ته وايي .

دوقفونو ننبنې :

م : د لازم وقف ننبنه ده .

ط : د مطلق وقف ننبنه ده .

ج : د جايز وقف ننبنه کښل کيږي چې وقف پرې غوره او وصل کول پرې روا دي .

ص : د مرخص وقف ننبنه کښل کيږي چې وقف او وصل دواړه پکې روا دي .

لا : د وقف نه کولو ننبنه ده .

○ : د ايت ننبنه ده چې وقف کول پرې مستحب دي .

سکته : د سا د بندولو نه پرته د اواز په بندولو سره د کلمې د آخر حرف ساکن کولو ته ښه ده .

په قرآن کریم کښې سکته تل د مربوطه کلمې په آخر کښې لیکل شوې وي .

ز : د مجوز وقف ته ښه ده چې وصل کول پکې غوره او وقف جایز دی .

قف : د وقف کولو امر دی .

د تجوید تعریف :

تجوید په لغت کښې تحسین (ښه کولو) ته وایي ، او په اصطلاح کښې تجوید داسې علم دی چې د هجا د تورو (حروفو) مخارجو (وتنې ځایونو) او صفاتو څخه یې بحث کوي .

موضوع یې :

د تجوید موضوع د قرآنکریم آیتونه دي په دی دول چې هرحرف (توری) ته ئې حق ورکول شی چې د مخارجو او صفتونو په لحاظ ئې صحیح تلفظ وشی .

غرض یې :

د خدای تعالیٰ د کلام (قرآن کریم) د تلاوت (لوستلو) په وخت کښې په سهوه او خطایې دول د زیادت او نقصان څخه دلوستونکي د ژبې ساتل دي .

ګټه یې :

په دنیا او اخرت کښې کامیابي اوښکمرغي ده .

تمرین :

۱- لِاِیْلٰفِ قُرَیْشٍ اِلٰفِهِمْ ..... په دغه مبارک آیت کښې د «قُرَیْشٍ» په تنوین کښې اظهار اداکېږي اوکه اخفاء ؟

۲- اَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوْعٍ وَّاٰمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ ط په دغه مبارک آیت کښې د اظهار ، اخفاء او ادغام ځایونه په ګوته کړئ؟

۳- لَا نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ؛ په دغه مبارک آیت کښې غنه لرونکی اوب غُنې ادغام وښیئ ؟

٤- که د قرآن کریم د تلاوت په موقع کښې له ط ، لا او « قف » سره مخامخ شئ چې دآیت په سرلیکل شوی وي وقف کوئ که وصل ؟

۵- د قرآن کریم د (۳۰) سپارې په لومړی سورة کښې د- ادغام ، اقلاب ، اظهار او اخفاء ځایونه پیدا کړئ ؟

٦- د قرآن کریم په وروستۍ سپاره کښې د لوستل شوي تجوید تطبیق وکړئ ؟

حکم یې :

د تجوید حکم په هرمکلف مسلمان او مسلمانې فرض کفایي اوعمل یې پرې فرض عین دی، ځکه چې خدای تعالیٰ فرمایي :

" وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلاً ۝

ترجمه : .او واضح ولوله قرآن واضح وقفه وقفه .

د قرآن کریم د واضح لوستلوڅخه مطلب د قرآن کریم سم اوصحیح لوستل دي، او دې مقصد ته د رسېدلو لار د - تجوید علم د زده کړې ده ، چې مونږ د قرآن کریم د سمو لوستلو سره روږدي کوي او مونږ په دې کتاب کښې د تجوید یوڅه برخه لولو .

د هجا توري او مخرجونه يې :

د عربي ژبې د هجا توري (۲۹) اوپه لاندې ډول دي :

ا ، ب ، ت ، ث ، ج ، ح ، خ ، د ، ذ ، ر ، ز ، س ، ش ، ص ، ض
ط ، ظ ، ع ، غ ، ف ، ق ، ك ، ل ، م ، ن ، و ، ء ، ه ، ى .

د هجا د تورو مخرجونه :

مخرجونه د مخرج جمع او مخرج د وتلو ځای ته وايي .
د تجويد په علم کښې د توري مخرج هغه ځای دی چې د تلفظ په وخت کښې ترې توری راوځي .
لکه شوندې چې د (ب ، ف ، م ، و) د تورو مخرج اوداد اکولو ځای دی .

د هجا د تورو د مخرجونو د پېژندلو اسانه طريقه دا ده چې که زور لرونکې همزه ترساکن توري مخه راوړل شي او بيا دواړه تلفظ شي نو مخرج يې معلومېږي .

مثلاً که زور لرونکې همزه (أ)، پر ساکنه ب (بْ)، داخله کړو نو (أبْ)، ترې جوړیږي، اوکله-یې چې تلفظ کړو نومعلومیږي چې د (ب)، مخرج ددواړو شونډو تر منځ دی .

دهجا د تورو د مخرجونو وېش :

قرآن کریم په عربي ژبه دی اود عربي ژبې (۲۹) توري په درو بېلابېلو ځایونوکښې ادا کېږي : حلق (ستونی)، خوله، شونډې .

د تورو مخرجونه سینې ته نژدې د ستوني له لومړۍ برخې نه د خولې او شونډو په لور په ترتیب سره دا رنګه طبقه بندي شوي دي .

لومړۍ د ستوني مخرجونه : ستوني درې مخرجونه لري چې شپږ توري ترې راوځي .

۱- «همزه» او «هـ» د ستوني له لومړۍ برخې څخه راوځي .

۲- «ع» او «ح» د ستوني له منځنۍ برخې څخه راوځي .

۳- «غ» او «خ» د ستوني له ورستۍ برخې څخه راوځي .

دويم د خولې مخرجونه :

خوله (۱۰) لس مخرجونه لري چې لاندې اتلس (۱۸) توري نرې راوځي : ق ، ك ، ج ، ش ، ى ، ض ، ل ، ر ، ن ، ت ، د ، ط ، ذ ، ث ، ظ ، ز ، س ، ص .

څرنګه چې د دغو توروڅخه زياتره د غاښونو په مرسته ادا کيږي ، نو هرڅه لومړى بايد د غاښونو ډولونه وپيژنو .

د غاښونو ډولونه :

د بالغ انسان د غاښونو شمېر زياتره (۳۲) وي چې (۱۶) يې په پاسنۍ او (۱۶) يې په لاندينۍ ژامه کښې وي .

د انسان غاښونه په خلورو ډولونو وېشل شوي دي :

ثنايا ، رباعيات ، انياب ، اضراس .

۱- ثنايا : د پاسنۍ او لاندينۍ ژامو څلور څلور مخامخ غاښونو ته ثنايا وايي .

۲- رُباعیات : رباعیات غابنونه څلور دي چې د لاندې باندې ژامو د ټنایا غابنونو ښې اوکیڼ لورته یو یو واقع دی.

۳- انیاب : انیاب غابنونه هم څلور دي چې په پورتنۍ اوکښتنۍ ژامو کښې د رباعیاتو ترڅنګ واقع دي.

٤- اضراس : اضراس غابنونه شل اویه درېډوله دي :

الف : ضواحک ، ضواحک څلور غابنونه دي چې په پورتنۍ او کښتنۍ ژامو کښې د انیاب غابنونو ترڅنګ واقع دي.

ب ، طواحن : طواحن دولس غابنونه دي چې په پاسنۍ او لاندینۍ ژامو کښې د ضواحک غابنونو ترڅنګ واقع دي.

ج ، نواجذ : نواجذ څلور غابنونه دي چې د طواحن - غابنونو ترڅنګ واقع وي ، خوځیني خلک یې نه لري .

پاسنی څامه



لانديني څامه

په خوله کښې د «۱۸» تورو لس ګوڼې مخرجونه :

۱- هرکله چې د ژبې بېخ د تالو سره ولګول شي نو د - «ق» توری ادا کېږي .

۲- کله د قاف له مخرج څخه لږ څه پورته ، ژبه د تالو سره ولګول شي د «ک» توری ترې وځي .

۳- کله د ژبې منځنۍ برخه ، د مقابل تالو سره ولګول شي نو «ج ، ش ، ی» توري اداکېږي .

٤- کله چې د ژبې یو اړخ د اضراس غاښونو (معمولاً - کېڼې خوا) سره ولګول شي د «ض» توری اداکېږي ، خو پام وشي چې «ض» باید د «ظ» یا «د» په څېر ادا نشي .

٥- کله چې د ژبې څوکه د پاسنیو ثنایا غاښونو - بېخونو سره ولګول شي نو د «ل» توري ترې راوځي .

٦- هرکله چې د لام د مخرج نه لږ کښته د ژبې څوکه

AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE

تجوید

د شپږم ټولګي لپاره



کال : ۱۳۶۶ هـ ش

تجوید

د شپږم ټولګي لپاره

کال : ۱۳۶۶ هـ ش

مؤلف:

روژه کل « وحدتي »

مشورتي غړي:

باطن شاه « صافی » او محمد امین « مدقق »

فهرست

کڼه	عنوان	مخ
۱-	لومړے فصل .	۱
۲-	تجوید .	۱
۳-	د تجوید تعریف .	۲
٤ -	موضوع یې .	۲
٥ -	غرض یې .	۲
٦-	ګټه یې .	۲
۷-	حکم یې .	۳
۸ -	دهجا توري اومخرجونه یې .	٤
۹ -	دهجا د تورو دمخرجونو شمېر .	٥
۱۰ -	په خوله کې د «۱۸» تورو لس ګڼې مخرجونه.	۹
۱۱ -	تمرین	۱۳
۱۲ -	دویم فصل .	۱٤
۱۳ -	مد	۱٤
۱٤ -	د مد ډولونه	۱٥
۱٥ -	د مد احکام	۱۸
۱٦ -	تمرین	۲۰

مخ	عنوان	کڼه
۲۲	دریم فصل	۱۷-
۲۲	د ساکن نون او تنوین احکام .	۱۸-
۲۲	ا د غام	۱۹-
۲۵	ا قلاب	۲۰-
۲۵	ا ظهار	۲۱-
۲۶	ا خفاء	۲۲-
۲۸	وقفونه او نښې يې .	۲۳-
۳۰	تمرين	۲٤-